

# د ځاځي  میدان ولسوالۍ ته لنډه کتنه

دا چې د خوست ولایت دوولس ولسوالۍ لري چې یوه یې هم د ځاځي میدان ولسوالي ده چې د خوست په شمال ختیځ کې موقعیت لري، د خوست له مرکز څخه په (۴۸) کیلومترو په واټن سره پراته ولسوالي ده چې په لنډ ډول یې دلته درپېژنو.

## د ځاځي میدان ولسوالۍ حدود او جغرافیوي موقعیت

د ځاځي میدان ولسوالی شمال خواته د سپیروني کنډو او زیړي کندي پوله پرته ده. جنوب خوا ته یې د قمر میله ډمبر میله، جنوب لویدیځ ته یې خوګې کندو یعنې زانګویې ګوئ او د چنارګي پوله ده لویدیځ ته یې زیړین کندو او سپین خارو کندو پروت دی شمال لویدیځ ته یې د ډهلي چینه او جنوب ختیځ ته یی قدم څاپر( پاټک) پوله ده ختیځ ته یی د جنډو سر، د سټیوان په ختیځ کې د ولې سر دی او په سر یې ډیورنډ کربښه تیره شوي ده، د ګورګوری په ختیځ کې لاکا تیره واقع ده ، د شني درګی توره تیره هم په ختیخ کي موقعیت لري، د ځاځي میدان ولسوالي د مرکز په شمال ختیځ کې تړلې بارا پوله ده ,څیړې کندو پوله چې د مرکز په شمال ختیخ کې موقعیت لري . باید یادونه وشي چی د فولاد آقا قبر هم په همدی کندو کې موجود دی کړاخې کنډو د مالي خیلو سره پوله جوړوي، چي مرکز په شمال کې موقعیت لري او داسې نورې ډیرې پولې شته دي ،چې دومره ضروري نه ګڼل کیږي باید یادونه وشي چی د ځاځي میدان جنوب څخه نیولي او تر شمال پوري ختیځه برخه یې ټوله د ډیورنډ کربښه ده یعنې د ډمبر میلې څخه نیولې بیا تر کړاخیې کندو پورې ډیورنډ کربښه ده چی (٦٢) کیلومتره پوله جوړ وي،چې د ټول خوست تقریباً دریمه برخه ده.

## د ځاځي میدان ولسوالۍ څلور خواوې

شمال ته یې د پکتیا ولایت څپري ولسوالي ډنډې پټان شمال لویدیځ ته یې د پکتیا ولایت د جاني خیلو ولسوالي ختیځ ته یې د ډیورند کرښه د کرم ایجنسی بنګښ او ملاخیل اوړده سیمه ، لویدیځ ته یې د باک ولسوالي جنوب ته یې ډمبر میله قمر میله او زامې په نوم سیمه موقعیت لري. ځاځي میدان ولسوالۍ (۳۹۵) کیلومتره مربع مساحت لري چې د سمندر د سطحې څخه په (۱۳۵۰) متره لوړوالي سره پراته ده . طول البلد (۷) دقیقي او په ۷۰ درجو دی او عرض البلد (۳۳) درجو (۳۷) دقیقو کې موقعیت لري نفوس یې (۲۱۴۰۰۰) په دې کې نارینه (۱۱۱۰۰۰) او ښځینه یی ۱۰۳۰۰۰، شمارل شوي دي ( ۱. م : ۵۱۷)

کومه احصایه چی د ځاځی میدان ولسوالی په کلینیک کی موجوده او دC.C.C مؤسیسې د ځاځي میدان نفوس (۴٦۵۱۴) شمارل شوی دی . دوهم c.s. له خوا شوی سر شمیرنه (۱۷۹۳۲) تنه ښودلې شوې ده. البته یاده احصایه په ۱۳۹۴ کال کې ځاځي میدان ولسوالې کلینیک څخه ترلاسه شوې ده.

سپین ږیرو له خولې داسې ویل کیږي چې د ځاځیو څخه مخکې په دې خاوره شیعه مذهبه خلک اوسیدل او له شیعه ګانو څخه دا ځمکه په زور نیول شوي ده. هغه ترې شړل شوي دي پر ځای یې ځاځي میشت شوي دي. ټول ځاځي میدان له درو قومونو څخه جوړ دی چې درې وانډه ورته هم ویل کیږي ،میدان، دانې او الکډوال دي ،دغه قومونه نسبت ټول ځاځي دي او ځاځي میدان ولسوالی ټوله (۱۳۸) کلیو څخه جوړه شوې ولسوالي ده چې له دې جملې څخه میدان (٦۸) کلي لري ، دنې (۳۰) کلي ، الګده (۳۲) کلي او اکاکهول (۸) کلي لري.

## ښوونه او روزنه

ځاځي میدان به یوازې د امن کور نه وي، بلکې دا ولسونه به د علم او تمدن په برخه کې هم نوم وباسي. ځاځي ځوانان له علم او تمدن سره بې کچې مینه لري چې ډېری ځوانان یې د هیواد په بیلا بیلو تعلیمي موسساتو کې په زده کړو بوخت دي.

په ځاځي میدان کې یوولس لیسې چې د ذکور او اناثو دي، شاوخوا ۲۵ ابتدایي او ۷ متواسطه ښوونځي، ۳ رسمي دیني مدرسې او ٦ کلیوالي مدرسې فعاله دي، چې دوه یې د نجونو لېسې دي.

په دې ولسوالۍ کې د ځو ځانګو لرونکې لېسه، د کیڅرالرشتوي انسټیټیوټ، د ښوونکو د روزنې ملاتړی مرکز، خصوصي ښوونځي او کورسونه هم د ځوانانو د زده کړې لپاره فعال دي. په تېره نیمه لسیزه کې د دې ولسوالۍ سلګونه ځوانان د هېواد له بیلابیلو پوهنتونونو فارغ شوي چې په مختلفو ادارو کې په کار بوخت دي.

## روغتیایي خدمت

په ځاځي میدان ولسوالۍ کې یو بشپړ روغتیایي مرکز سربیره دوه فرعي روغتیایي مرکزونه او په لسګونو خصوصي کلینیکونه او درملتونونو شتون د یادې ولسوالۍ خلکو ته په روغتیایي برخو کې اسانتیا را منځته کړې ده.

د مور او ماشوم د مړینه هغه ستونزه وه، چې مخکې موجوده وه، خو اوس په ځاځي میدان بشپړ روغتیایي مرکز سربیره نور د نیسایې ولادي روغتونو شتون یاده ستونزه حل کړې ده.

د یادونې وړ ده، چې د یادې ولسوالۍ د خلکو ډیرښت ته په کتو باید روغتیایي خدمت نور هم پراخ او وسیع شي.

## مشهور ادیبان

محمد عارف غروال

څیړنوال محمد عارف غروال تر دې دمه ( ۲٦ ) آثار لیکلي او ژباړلي دي چې ځینې یې چاپ او ځینې یې ناچاپ دي ، خو ځینې ناچاپ آثار یې هم په بیلو بیلو وختونو کې د ځانګړو مقالو په بڼه د هیواد په مجلو ، جریدو او ورځپاڼو کې چاپ شوي دي او په هره برخه کې یې لیکنه کړې ده.

محمد عاشق افغاني

شاعر او لیکوال محمد عاشق افغاني چې زیاتې لیکنې کړي دي چې ځینې چاپ شوي دي او ځینې د چاپ څخه پاتې دي د محمد عاشق افغاني هغه آثار چې د پاکستان هیواد په ورځپاڼو او مجلو کې خپره شوي دي او په افغانستان کې هم ډیرې لیکنې چاپ شوي دي شعرونه مقالې، ژباړې او دې ته ورته ډېرې لیکنې کړې دي.

ولسي شاعران

په یاد شوي ولسوالۍ کې ډیر نامتو ولسي شاعران هم شته وو چې لومړی، حکیم نور اکاخیل د ځاځي میدان ولسوالۍ اکاکهول کې نړۍ ته سترګې پرانستې وې نوموړی ۷ کلن و چې شعرونه یې لیکل هم یې ویل چې ډیر لوی ولسي شاعر و او ډېرې ناچاپه لیکنې او شعرونه یې لیکلي پاتې دي. جالبه خبره خو دا هم ده چې اکاخیل صېب په خپل اواز سندرې هم ویلې دي محترم اکاخیل صېب د افغانستان ملی رادیو تلویزون همکار پاتې شوې و چې ډیره مشهوره سندره هغه ویلي ده چې بېلګه یې په لاندي ډول سره ده.

مینه لوی دریاب ده پرې ګډېږمه

زه د دیدن تږی نه مړېږمه

مینه لوی دریاب ده ګډیدلی شي


څوک چې تکلیفونه قبلولی شي

څومره چې غوټې پسې ویله شي

یا په دریابونو کې موندلی شي

یور مې لامبوزن ده په نازیږمه

د حکیم نور اکاخېل یو انځور



نوموړی د خپل ژوند ډیره برخه همدې ولسي شاعرۍ ته ورکړې وه چی تقریباً تر ۲۵۰۰۰ زرو څخه زیات بیتونه یې لیکلي دي.

د ځاځي میدان ولسوالی یو بل ولسي شاعر غازي جان و، چې هم ولسي شاعر او هم یې په خپل اواز کي سندري ویلي دي هم د افغانستان ملي راډیو تلویزیون سره همکار و دا هم په خپل وخت کې ډېر شعرونه

لیکلي دي او هم یې ویلي دي د غازي جان کوم لیکلي کتاب نه دی چاپ شوی خو زیات شعرونه یې د هنرمندۍ په وخت کې په کنسرتونو کې ویلي دي چې لا اوس هم۳۳ موجود دي په نوموړي ولسوالي کي ادبي هلې ځلې ډېرې زیاتې دي په یاده ولسوالۍ کې چې ډېر وخت ځوانان پکې برخه اخلي د کال په اوږدو کې یوه کالیزه ، اختریزه ، پسرلني ، راټولیدنه ترسره کیږي چي د نورو ولسوالیو ځوانان هم پکی ګډون کوي همدا رنګه په نوي کال او په ملي ورځو کې هم مشاعرې او غونډې کیږي او هم ځوانان اتڼونه کوي.

د غازي جان ځاځي یو انځور




**ګورګورۍ باغ**

په ځاځي میدان ولسوالۍ کې د ګورګورۍ په نوم یو تاریخي باغ هم شته، چې د پخوانیو حکومتونو لهٔ خوا جوړ شوی او مخینه یې آن د ظاهرشاه تر پاچاهۍ رسېږي. په دې باغ کې د ښهٔ نسل بېلا بېلې لویې او وړې ونې هم شته، ځینې یې مېوه لرونکي او ځینې یې د ورتلونکو سیلانیانو د دمې سیورې برابروي.

دا تاريخي باغ تازه د حکومت لهٔ لورې په تفريحي پارک بدل شوی او د لا ښهٔ تنظيم او ساتنې لپاره خصوصي سکټور ته په قرارداد ورکړل شوی؛ تر څو يې د ساتنې تر څنگ د اساسي جوړېدو لپاره هم کار وکړي.

پهٔ افغانستان کې د مروجو مذهبي، کلتوري او تفريحي ورځو او رخصتيو پهٔ جريان کې پهٔ زرگونو خلک لهٔ يادې ولسوالۍ او همدې تاريخي باغ څخه ليدنه کوي. د اختر تر ۱۰ او ۱۵ ورځو پورې دلته مېلې او بنډارونه جوړېږي او د مختلفو سيمو سيل کونکي ورته راځي.

د يادونې وړ ده، چې دا تفريحي باغ په افغانستان کې د شاهي حکومت په دوره کې جوړ شوی هغه وخت چې فيض محمد خان د خوست حکمران او شاه جهان د ځاځي ميدان حاکم ؤ او د سيمې د يوه اوسېدونکي په وينا، چې دا باغ د حکومت په امر د اشر په ډول جوړ شوی دی.

د گورگورۍ باغ پر سر يوه سرحدي پوسته هم شته، چې د خلکو د رضاکارانه کار او گډون په نتيجه کې لهٔ باغ سره يو ځای جوړه شوې، دا پوسته د گورگورۍ سرحدي پوسته ده، د جوړښت او موقعيت له مخې يې هم ځانگړتيا د پام وړ ده، چې حيرانونکی جوړښت، جذابه ساختمان او ښکلې نقاشي لري.

## د شگۍ کلي

شکۍ په نوم يو کلی چې د ځاځي ميدان ولسوالۍ په مربوطاتو کې له سرحد سره نږدې پروت دی، د يوه تاريخي روايت په توگه ويل کېږي، چې دا کلی د مبارزې او ښکېلاکگرو پر وړاندې د مقاومت مهم سنگر ؤ، له همدې امله درې ځلې د وخت د انگريزي ښکيلاکگرو له لورې سوځول شوی دي، په څلورم ځل تېري کوونکو بيا غوښتل دا کلی وسوځوي او يو لښکر يې د همدې کار لپاره راولېږه، انگرېز قومندان په ډاډه زړه د خپل لښکر مخې ته روان دی او کلي ته په نږدې کېدو دی، په دې وخت کې د ټيکي په نوم

يو زړور ځوان د خپل ټوپک شپېلۍ د قومندان تندي ته برابروي او په دې سر يې ولي، چې له دې کار سره د انګريزانو لښکر تار و مار کېږي او بېرته په شاه کېږي.

د مبارزې، مېړانې او مقاومت دا مورچل اوس يو ښکلی، زرغون او پۀ طبيعي ښکلا مالامال ځای دی، دې ځای ته ورتلل، له منظرو يې خوند اخيستل او د اتلولۍ د تاريخ يادول يې انسان ته خوشحالي، غرور او وياړ وربښي.

**جنډو غر**

د ځاځي ميدان ولسوالۍ په ختيځ کې د جنډو غر هم ستړې حماسې او ښکلاوې له ځانه سره لرې. دا غر چې د ځاځي ميدان يو له لوړو غرونو څخه دی، د ډيورنډ پر فرضي کرښه پروت دی .د غره سر ته په ختلو سره کولی شو د ځاځي ميدان اکثريت سيمې او د کوزې پښتونخوا د کُرمې سيمې تر ليري - ليري پورې وګورو او د غره سر لۀ سړې او مستې هوا خوند واخلو .

په ټوله کې د ځاځي ميدان سرحدي سيمې ډېرې ځانګړې دي.هم ښکلې دي، هم سمسورې او هم لۀ حماسو او مبارزو ډکې دي.

ځاځي ميدان ته راتلونکي سيلانيان د ژوند له لومړنيو سهولتونو برخمن کېدای شي.

**زراعت او مالداري**

د ا ځاځي ميدان ولسوالۍ اکثره برخې دنګو غرونو پوښلي دي، په همدې اساس د کرنې لپاره ډيري ځمکې نه لري، خو بيا د زياتو اوبو شتون ددې ولسوالۍ کرنې ته پراختيا ور کړې دي.

پدې جنتي خاوره کې د بزګرانو له لوري، غنم ،جوار ،شولې، ممپلي، پلي، لوبيا او ديته ورته نور غلي دانې کرل کيږي.

د يادې ولسوالۍ اقليم د هر ډول ونو د کرلو لپاره مناسبه هوا لري، بيلابيلې ميوه داري ونې او غير ميوه دارو ونو د يادې ولسوالۍ په زرغونتيا کې برخه اخيستې ده.

ځاځي ميدان ولسوالۍ په عام ډول مالداري لري لومړۍ غواوې، ميښې، اوښان، وزې، مېږې، کچرې ، اسپې او خرونه چې هلته کومه مالداري ډيره زياته ده هغه غواوې دي په نوموړي ولسوالۍ کې به داسې کور نه ليدل کيږي چې په کور کې غواوي ونلري په همدې ډول مخي: هم په ډيرو کورونو کې ساتل کيږي وزي هم د يادي ولسوالی په غرنيو ساحو کې ساتل کيږي چې څوک وزې ساتي نو د هغوی اقتصاد هم پر همدغيعې مالدارۍ ولاړ وي. ميږي د ميږو مالداري هم په دي ولسوالۍ کې زياته ده خو دومره نه ده زياته لکه څومره چې وزو يا د غواوو زياته ده . کچرې هم په دي سيمه کې تر سترګو کيږي او خلک يې ساتي خو دومره زياتي نه دي همدي ته ورته آسپې هم په دي سيمه کې تر سترګو کيږي د سيمې خلک يې د شوقه ساتي.

خر او يا خرونه په يادې ولسوالۍ کې څه نه څه زيات دي خو د پخوا په پرتله اوس ډير کم شوي دي. پخوا به زياتره د بار کار په همدې څارويو کيدلو خو اوس چې ماشينري زياته شوې نو څارويو کې هم کموالی راغلی دی خو بيا هم په غرنيو سيمو کې له همدې څارويو ګټه اخلي.

**رحمت الله آرين**

**د ځاځي میدان څو انځورونه**



